AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۷/۲۰

# د خبرو ماهیت

د طالبانو حکومت و. ټول هلکان مجبور وو، چې هر سهار جوماتونو ته ولاړ شي، سبق ووايي. يوه ورځ ملا له يوه اوه اته کلن هلك څخه پوښتنه وکړه: اودس څنګه کيږي؟

هلك وويل: اول استنجا کوو، بيا مو لاسونه په صابون باندې مينځو...

ملا پر هلك د لښتي وار وکړ: دا خبره چا درته کړې ده؟

هلك په ژړغوني غږ وويل: پلار مې.

ملا نورو هلکان ته مخ واړاوه، ويې ويل: دې ته بدعت وايي. په دين کې نوې خبرې رااېستل ناروا دي.

***

اسلام دين پر پاکوالي ډېر زيات ټينګار کړی، ان نظافت يې د ايمان برخه ګڼلې ده، مانا دا چې که څوك پاکوالي ته پام نه کوي ايمان به يې نيمګړی شي. د هند براعظمګي تاريخ پوه ډاکتر مبارك علي په يوه مقاله کې ليکلي دي، چې پخوا به عيسوي ملايانو نظافت له شهوت سره تړلی ګاڼه، دوی ته پاکي د عياشۍ نښه وه. دوی ويل، څوك چې تقوا لري، بايد خيرن وګرځي.

مبارك علي وايي، چې عيسوي بزګران به په ټول عمر کې درې واري لمبېدل، د زېږيدو پر وخت، د واده پر شپه او پس له مرګه يعني د ميت غسل؛ خو کله چې عيسويان د صليبي جنګونو په زور فلسطين ته راغلل، عرب مسلمانان يې وليدل، چې ډېر پاك ګرځي. وروسته بيا په دوی کې هم ځان مينځل رواج شول.

د طالبانو په واکمنۍ کې به امر بالمعروف والا هغه کسان نيول چې وينښته به يې اوږده وو؛ خو که دغه کسان خيرن وو، نو څه به يې نه ورته ويل.

اسلامي ارشاداتو ته په پام سره زه ويلی شو، چې که د رسول الله (ص) د ژوند پر مهال صابون جوړ شوی وای؛ نو هغه مبارك به خامخا خپل امت د صابون استعمال ته هڅاوه؛ ځکه چې په خالي اوبو بدن نه پاکيږي، که ظاهراً پاك هم شي؛ خو ميکروبونه يې له منځه نه ځي.

***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بل ځای نبي کريم فرمايلي دي، چې د مسلمانانو پایڅې باید تر ښنګرو پورته وي. د دې خبرې دلیل دا و، چې هغه مهال به د متکبرو خلکو پايڅې اوږدې وې. زموږ پیغمبر غوښتل، چې مسلمانان له تکبره لرې وګرځي؛ ځکه خو يې داسې امر کړی و.

موږ وليدل چې د تنظيمي جګړو پر مهال به خورا مغرور و فاسد ټوپکوال به بډ وهلي پايڅې ګرځېدل. دوی به خپلي پايڅې ان تر زنګانه پورې بډ وهلي؛ خو په داسې تکبر به روان وو، چې ته وا د اسمان او د ځمکې واک به د دوی په لاس کې و. دا هغه کسان وو، چې د مسلمانانو په سر، مال او ناموس نه وو بند. هر څه چې به شيطان ورته ويل، هماغه به يې کړل. په دې وخت کې بډوهلي پايڅې د تکبر نخښه وه، نه د خاکسارۍ او تواضع. څه فکر کوئ، که حضرت محمد (ص) دغه جګړه ماران ليدلي وای، بيا به يې هم دا خبره کوله چې ((پايڅې مو بډ ووهئ))؟

زموږ اکثرې اسلامي چارې هماغه دي چې پخوا به مشرکانو کولې. څنګه چې اوس موږ د حج لپاره احرام تړو، سر خرييو، د کعبې طواف کوو، د صفا او مروې تر منځ منډې وهو او قرباني کوو، پخوا به عين کارونه مشرکانو هم کول؛ خو هغه مهال دغه چارې د خدای لپاره نه؛ بلکې د بتانو لپاره کېدې.

موږ تل د مسايلو ظاهر ته ګورو، نه د هغو ماهيت او مفهوم ته؛ ځکه خو زاړه پال او دودپال پاتې شوي يو. پر دې فکر نه کوو چې دغه خبره ولې شوې ده؟ موږ هر نوي شي ته د شك په سترګه ګورو، بدعت ورته وايو، حال دا چې اکثر نوي شيان د پخوانو شيانو تعديل شوې او اصلاح شوې بڼې دي، چې د وخت له غوښتنو سره سم عيار شوي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ